# چې د هر لمانځه په پاي کې مه پرېږده چې ووايې: اې الله، ستا په يادولو، ستا په شکر ادا کولو او ستا په ښه عبادت کولو کې راسره مرسته وکړې

له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه له لاس څخه ونیوه او ويې ويل: "اې معاذه، په الله قسم چې زه درسره مينه لرم"، نو ويې فرمايل:«اې معاذه! زه تاته سپارښتنه کوم چې د هر لمانځه په پاي کې مه پرېږده چې ووايې: اې الله، ستا په يادولو، ستا په شکر ادا کولو او ستا په ښه عبادت کولو کې راسره مرسته وکړې».

[صحيح دی] [ابو داود، النسائي او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د معاذ بن جبل رضي الله عنه لاس ونيوه او ورته يې وويل: قسم په الله چې زه درسره مينه لرم، او اې معاذه! زه درته سپارښتنه کوم چې د هر لمانځه په پاي کې پرې نه ږدې چې ووايې: (اللهم أَعِنّي على ذكرك) اې الله زما سره ستا په يادولو کې مرسته وکړې، په هرې وينا او عمل کې چې ستا پيرو ته مې نږدې کوي. (وشُكْرِك) او ستا په شکر ادا کولو، چې نعمتونه تر لاسه کړم او له نعمتونو څخه د بې برخې کېدلو پر وړاندې مانع وګرځي. (وحُسْن عبادتك) او ستا په ښايسته عبادت، چې الله تعالی ته يکې اخلاص وي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طريقه برابر وي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee